# د اجمل خټک ملي او سیاسي خدمات

لیاقت سیماب

داسې وخت ؤ چې اجمل خټک ته صرف د یو شاعر په حیث کتلې کېدل او دا ځکه چې هغه یو داسې شاعر ؤ چې د خپل اولس د زړۀ ترجمان جوړ شوے ؤ او په ادبي خلقو کښې ئې زیات مقبولیت ځکه موندے ؤ چې هغه د پښتو نظم ته یو نوے رنګ او نوے آهنګ ورکړو. خو په خلقو کښې ئې د مقبولیت زیاته وجه د هغۀ هغه احساسات او جذبات وو کوم چې د یو زړۀ سواندي اولس پروره او قام پروره انسان په زړۀ کښې وي. د هغۀ رګونو کښې هغې وینې غورځنګونه وهل کومه وینه چې د خوشحال خان خټک غوندې د غیرتي پښتون په رګونو کښې وه. د هغۀ ذهن هم د هغه ډیوې په رڼا روښانه ؤ کومه ډیوه چې فخرافغان خان عبدالغفار خان بلـه کړې وه. دغه وجه وه چې د اجمل خټک شاعري صرف د شاعرۍ دپاره نه وه د هغه شعر د خان د خوشحالولو دپاره نۀ ؤ. د هغۀ شعر کښې یو پېغام دے او دۀ د دې پېغام د رسولو دپاره د شعر ذریعه خوښه کړې وه. دا پېغام د مینې پېغام ؤ. د قام ولۍ او قام پروۍ پېغام ؤ. د پښتونولۍ او اولس پرورۍ پېغام ؤ. د خواري کښو،مظلومانو او مجبورو خلقو د زړۀ اواز ؤ. دا اواز دا پېغام د اولس اواز ؤ نو ځکه دا د واکمنو په ایوانونو ښه ونه لګېدو. د اجمل خټک د غیرت او پښتونولۍ چغې د اقتدار ایوانونه چېلنج کړل. دا ایوانونه اولړزېدل. د امو نه تر اباسینه لوئې ملت دا چغه خپله اوګڼله او ورسره ورسره نورو قومونو هم اجمل خټک خپل ترجمان او خپل اواز وګڼلو.



د اجمل خټک د غیرت او پښتونولۍ چغې
د اقتدار ایوانونه چېلنج کړل

اجمل خټک د يو ملي قائد په حيث د يو سياستدان په شکل کښې مېدان ته راوتو. د فخرافغان د قافلې ملګرے شو. خو کله؟ هغه په خپله وائي چې دے وړوکے ؤ د باچاخان جلوس د

## د هغه د سياست لاره د باچاخان لاره وه

اکوړې بازار کښې روان ؤ. دے د يو ديوال خوا ته ولاړ ؤ باچاخان د دۀ په سر لاس کېښود او دغه لاس ؤ چې اجمل خټک کښې ئې پټ صلاحيتونه راښکاره کړل. اجمل خټک تر مرګه د باچاخان د قامولۍ او ملت پالنې نظريه په خپل زړۀ او ذهن کښې نيولې وه او د دغه نظريې د خورولو دپاره ئې هم د فخرافغان د عدم تشدد لاره د خپل سياست لاره انتخاب کړې وه.

د اجمل خټک سياسي ژوند د ډېرو کړمو، تکليفونو،مصيبتونو،جيلونو او کيناستو پاسېدو نه ډک ؤ. د هغه د سياست لاره د باچاخان لاره وه. هغه د خان عبدالولي خان هغه ملګرو کښې ؤ چې ولي خان پرې په هره موقعه او هره مرحله کښې د باور او اعتماد څرګندونه کړې ده. او د اعتماد او باور دغه احساس دۀ ته د خپل پلار باچاخان نه په وراثت کښې پاتې ؤ. داسې افسوس ناک وخت هم راغلے دے چې اجمل خټک د څو ورځو دپاره د ولي خان نه مرور شو. د دې حالت سوچ نه چرته اجمل خټک کړے ؤ او نه خان عبدالولي خان او نه دا د چا خوب و خيال کښې راتلل چې داسې به هم کله وشي خو ډېر زر دغه توره شپه يو ځل بيا اورښېده او پښتون قام د اطمينان ساه واخسته.

د محترم اجمل خټک سياسي سفر ډېر اوږد دے. هغه د مختلفو مرحلو نه تېر شوے دے چې يو پوره کتاب پرې ليکلے کېدے شي. وائي چې په ځوانۍ کښې هغه د پښتون ليګ په نامه يو تنظيم جوړ کړے ؤ. د ۱۹۵۰ په لسيزه کښې هغه ګرفتار شو. پوليسو هغه باندې په تاڼو کښې داسې زور زياتے وکړو چې د هغه حوصله ئې نوره اوچته کړه د هغه ارادې نورې مضبوطې شوې. د هغه مبارزه نوره تنده شوه. او شايد چې هم په دغه وخت کښې لوئې اجمل خټک دغه خيالات د شعر په جامه کښې څه داسې رانغښتي وي.

که ظالم مې ژبه غوڅه کړه تېره شوه
تورۍ څومره چې تېره شوه لا خوږه شوه

اوس که نر وي نو غوږونه دې خپل پرې کړي
چې زما نغمه سره نه شوله سرۀ شوه

د فخرافغان د تحريک په لاره کښې د پاکستان واکدارانو خنډان جوړ کړي وو ولې د دې تحريک کاروان هر وخت يون ته ملا تړلے ولاړ ؤ. ډېر زر د ټول پاکستان د مختلفو صوبو جمهوري او مترقي قوتونو په يو پلېټ فارم د راغونډېدو فېصله وکړه. باچاخان او د هغه ملګرو دا فېصله خپله کړن لاره وټاکله او د ټول ملک په سطح د نيشنل عوامي پارټۍ په نوم د يوې لوئې سياسي پارټۍ ستورے د پاکستان د سياست په اسمان اوځلېدو. خدائي خدمتګار تحريک د دې ګوند يوه فعاله

برخه جوړ شو او اجمل خټک د دغه ګوند یو نامتو غړے ؤ. دۀ د ګوند د پښتونخوا صوبې د مشر سیکتر په حیث تر کافي مودې پورې کار وکړو. روستو بیا د نورو صوبو د کارکنانو په خوښه دۀ ته په مرکز کښې د جائنټ سیکتر عهده هم ورکړے شوه.

**د اجمل خټک سیاسي پوهه او بصیرت د ټول ملک سیاسي قیادتونو ومنلو**



اجمل خټک په ړومبي ځل د کال ۱۹۷۰ عامو انتخاباتو کښې د نوښار نه د قومي اسمبلۍ دپاره انتخاباتو کښې برخه واخسته ولې د یو منظم سازش په نتیجه کښې ئې په ډېرو کمو ووټونو ماتې وخوړه. دا هغه زمانه وه چې نیشنل عوامي پارټۍ په ټوله دنیا کښې د یو سامراج دښمنه او استعمار دښمنه طاقت په توګه شهرت لرلو او د دې په مقابله کښې نه صرف د پاکستان واکدار قوتونه ولاړ وو بلکې د امریکې په قیادت کښې استعماري نړۍ هم نیشنل عوامي پارټي خپل دښمن ګڼلو. پاکستان د دوه سامراجي فوځي لوظنامو سینټو او سیټو ممبر ؤ. او د سینټو د لوظنامې لاندې د پېښور بډه بېره کښې د امریکې یوه فعاله فوځي اډه موجود وه. انتخاباتو کښې د ماتې نه پس محترم اجمل خټک خپله سیاسي مبارزه د پارلیمان نه بهر هم هغه شان جاري وساتله او د خان عبدالولي خان په قیادت کښې ئې ډېرې ګټورو سیاسي فېصلو کښې جوت کردار ولوبولو. د ۱۹۷۰ د مارچ میاشت کښې د قومي اسمبلۍ انتخاباتو کښې د ناکامۍ نه پس محترم اجمل خټک د صوبائي اسمبلۍ د انتخاباتو دپاره منصوبه بندۍ کښې داسې کردار ادا کړو چې پښتونخوا اسمبلۍ کښې نیشنل عوامي پارټۍ د یواځیني اکثریتي پارټۍ په توګه مخې ته راغله. دۀ د اسلم خټک په مشرۍ کښې د یو آزاد ګروپ مرستې حاصلولو کښې کامیابي ترلاسه کړه چې روستو نیشنل عوامي پارټي د مولانا مفتي محمود په سر مشرۍ کښې صوبه کښې حکومت جوړولو کښې بریالۍ شوه. د دې ټول عمل ستائینه خان عبدالولي خان په خپل یو تقریر کښې هم په هغه ورځو کښې کړې وه.

د مولانا مفتي محمود د استعفی نه پس د صوبې او ملک حالات ډېر زیات خراب شول. دې وخت کښې محترم اجمل خټک د نیشنل عوامي پارټۍ مرکزي جنرل سیکتر ؤ. د اجمل خټک صپب ذمه وارۍ نورې زیاتې شوې. کله چې د راولپنډۍ لیاقت باغ کښې د ټولو سیاسي ګوندونو یوه لویه جلسه په ۲۳ مارچ کال ۱۹۷۳

کښې کېدله نو د ذوالفقارعلیپ بوټو د حکومت د خوا دا جلسه نه صرف اورانه کړے شوه بلکې په

## خان عبدالولي خان د قائدِ تحریک په حیث د محترم اجمل خټک لارښودنه وکړه



جلسه کښې ناتارې ډزې وشوې او د نیشنل عوامي پارټۍ ډېر زیات کارکنان پکښې شهیدان شول نو محترم اجمل خټک د ملک پرېښودو فیصله وکړه او کابل ته لاړو. هلته دۀ د پښتنو او بلوچو د حق خبره ټولې دنیا ته مخې ته کېښوده او دنیا ئې د ذوالفقارعلي بوټو د غیر جمهوري او غیر انساني رویې نه مسلسل خبره وساتله.

ښاغلي اجمل خټک د پینځلس کالو نه زیاته موده د خپل کور کلي او وطن نه بهر په افغانستان کښې تېره کړه. دا یوه ډېره اوږده موده ده چې د یوې غټې قربانۍ نه کمه نه ده. خټک صېب چې د افغانستان نه واپس راغے نو څه موده پس خان عبدالولي خان په جمهوري طریقه خپل منصب اجمل خټک ته حواله کړو. دا په اجمل خټک د خان عبدالولي خان غټ اعتماد او باور ؤ. اجمل خټک دوه واره د عوامي نیشنل پارټۍ مرکزي صدر پاتې شو. دې دوران کښې د اجمل خټک سیاسي پوهه او بصیرت د ټول ملک سیاسي قیادتونو ومنلو. اجمل خټک نه صرف پارلیمان کښې دننه د یو زیرک سیاستدان په حیث کردار ادا کړو بلکې د پارلیمان نه بهر ئې هم داسې سیاسي رول ولوبولو چې د پاکستان د جمهوري تحریکونو او د پښتنو د ملي غورځنګ تاریخ کښې به د ځلانده باب په صورت کښې تل خوندي وي او د مستقبل څېړنکار او سیاسي کارکنان به ترې استفاده کوي.

د اجمل خټک په قیادت کښې عوامي نیشنل پارټۍ پرله پسې انتخابي ګټې ترلاسه کړې دي. د محترم اجمل خټک دا غټه خوش بختي وه چې دې دوران کښې که خان عبدالولي خان سره د ګوند د صدارت چوکۍ نه وه ولې د قائدِ تحریک په حیث ئې د محترم اجمل خټک لارښونه کوله.

د خپل اوږد سیاسي ژوند هره لمحه محترم اجمل خټک په ازغنو لارو تېره کړې وه. د هغه مخې ته صرف یو مرام ؤ د قام او وطن خدمت، د خلقو د بنیادي حقونو تحفظ، د جمهوري قدرونو ساتنه او د پښتنو ملي او سیاسي حقونه ګټل. دې غرض دپاره هغه د خپل ژوند یوه لمحه هم خوشې او بې کاره نۀ ده پرېښې. د هغه په لاره کښې ډېر خنډونه وو خو هغه د هر خنډ لرې کولو دپاره د یوې قربانۍ

نـه هـم سـرغړونـه نۀ ده کړې. د هغه په رګونو کښې پښتـنـه وينه هره لمحه کښې په غورځنګ وه. د هغه د قيـد و بـنـد داستانونه په خپله ليکلي او نا ليکلي کتابونه دي. قيدونو او بندونو اجمل خټک ته دايمي رنځـونـه ور پـه غـاړه کړي وو.

هـغـه تل په بدني لحاظ رنځور پـاتې شـوے دے او همېشـه ئې دارو د خپل روزانه خوراک برخه جـوړه کړې وه. ولې د هغـه زړۀ او دمـاغ دومـره فعـال وو چې د دايـمـي رنځـونـو مـزاحمت ئې دومره په بهادرۍ او زړورتيا تر آخـرۍ سـلګۍ پـورې داسې وکړو چې چا ته پته هم نۀ وه چې اجمل خټک څومره ناجوړه دے او د کـلـه راهسې بيمارو نيولے دے.

پـه خپـل سيـاسـي ژوند کښې هغـه تـه مـختـلـفـو حکومتي واکدارانو ډېر ډېر پېشکشونه کړي دي ولې هغه نه خو خپله غريبي کله محسوس کړې ده او نـه د چـا اميـرۍ او دولـت تـه پسخېدلے دے. نۀ ئې د خپـل شپـږو مـرلـو کـور پـه بنګلـه او مـحـل د بـدلېـدو لالـچ کـړے دے او نه ئې د چا نه د مر آتو اخستو دپاره خپله پښتو او خود داري په بدل کښې چا ته د ورکېدو سوچ قدرِ هم کړے دے.

اجـمـل خټک لا ځـوان ؤ چې ايوب خان ور تـه د خپل وزير تجارت غلام فاروق په ذريعه چرته بـل مـلک کښې د يـوې سـفـارتي چوکۍ ورکولو وړانـديز کړے ؤ ولې هغه ډېر په جرات دې پېشکش تـه تـوجـو ورکـول هـم د خپل شـان خلاف وګڼل.

مـخـتـلـف وختـونـو کښې هـغـه ته ډېر پېشکشونه شـوي دي خـو هغه د يو داسې کاروان ملګرتيا د هر پېشـکـش نـه د لوئې شان وړ ګڼله کوم کاروان چې

**د هغۀ ذهن هم د هغه ډيوې په رڼا روښانه ؤ کومه ډيوه چې فخرافغان خان عبدالغفار خان بله کړې وه**



فـخرافغان باچاخان روان کړے ؤ او لا روان دے.

ذوالـفـقـارعلي بوټو سـره د هـغـه پېـژنـدګـلو د هغه وخت نه وه کله چې ډاکـټـر خـان صاحب سـکـنـدر مرزا ته سفارش اوکړو چې بوټو صېب دې پـه مـرکـزي کـابينـه کښې شامل کړي. او پـه دې مـوقـعـه مـحـتـرم اجمل خټک د کراچۍ صدارتي مـحـل کښې ډاکـټـر خـان صـاحب سره موجود ؤ. ذوالفقار بوټو به اجمل خټک د خپل زوړ ,,يار،، په نـوم يـادولـو ولې اجمل خټک دغه ذاتي تعلق چې سيـاسـي هـم ؤ پـه خپـلو ملي او جمهوري مفاداتو داسې قـربـان کړو چې د هـغـه د آمريت خلاف ئې اوږدې مسافرۍ ته ترجيح ورکړه.

د پښتون ملت،غريبانانو،مظلومانو، محرومو طبـقـو او بنيادي انساني حقونو د ساتنې دپاره د اجمل خټک اوږده مبـارزه بـه تل ياده وي او پښتون قام به د هغه خدمات او مجاهده تل تر تله ياده ساتي.